# غصب زمین های دولتی ادامه دارد

د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز - کابل

تحلیل CSRS | شماره: ۳۵۱

۱۴ سرطان ۱۳۹۹ هـ ش / 04 July 2020

ویبسایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

ایمیل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه با ما شریک سازید.

---

لومړی تحلیل

دویم تحلیل

# د پولو بیا پرانسته او پر افغان صادراتو يې اغېز



د کرونا وبا له امله د نړۍ په سطحه ډېر هېوادونه د نورو برخو ترڅنګ د صادراتو او وارداتو په برخه کې سخت وځپېدل. د افغانستان لویه کچه صادرات چې ګاونډي هېواد پاکستان ته ترسره کېدل د روان کال مارچ میاشتې څخه تر جون ۲۲ نېټې پورې یاد هېواد ته د کرونا وبا خپرېدو وېرې له امله د پاکستاني لوري لخوا بند کړای شوي وو.[1] له دې وړاندې هم پاکستان د مختلفو لاملونو له کبله افغانستان سره خپلې ګډې پولې د افغان صادراتو پر وړاندې تړلې وې چې له امله یې افغان سوداګرو ته په لویه کچه زیانونه اوښتي وو. د CSRS په دې تحلیل کې مو ګاونډي هېواد پاکستان سره د صادراتو په برخه کې د پرتو ستونزو په حل لارو او د هېواد پر صادراتو د پولو پرانستلو اغېزې مو تر بحث لاندې نیولې دي.

## د افغانستان صادراتو ته ځغلنده کتنه

د افغانستان صادرات چې د ناخالص کورنیو عوایدو ۲۰ سلنه جوړوي، تر ټولو کمه کچه یې ۶۹,۱ او تر ټولو لویه کچه یې ۸۷۵,۲۴ میلیونو ډالرو ته رسیږي. او په ۲۰۱۹ کال

[1] https://www.dawn.com/news/1539671

Center for Strategic and Regional

کې د افغانستان صادراتو کچه ۸۶۳٫۸۳ میلیون ته رسېدله چې د نړۍ په سطحه د زیاتو صادرونکو هېوادونو له ډلې په ۱۴۱ شمیره کې ځای لري.[2]

افغانستان د صادراتو په برخه کې انګور، نورې تازه او وچې میوې، سبزیجات، قالینې، د ډبرو سکاره، قیمتي ډبرې او یو شمېر نور مختلف څیزونه یو شمېر هېوادونو ته د سلنې په حساب په لاندې توګه صادروي چې د هغې جملې:

پاکستان ته (٪ ۴۲٫۹)، هند (۴۰٫۶٪)، چین (٪ ۳٫۲)، ترکیه (٪ ۲٫۵)، ایران (٪ ۲٫۳)، عربي متحده امارات (٪ ۱٫۸)، عراق (٪ ۱٫۵)، تاجکستان (٪ ۰٫۸) سعودي عربستان (٪ ۰٫۷)، جرمني (٪ ۰٫۶) او قزاقستان ته (۰٫۵) سلنه صادرات لري.[3]

که د لویو وچو په حساب د افغانستان صادرات پرتله کړو، نو آسیایي هېوادونو ته ٪ ۹۸٫۱، اروپایي هېوادونو ته٪ ۱٫۴، شمالي امریکا ته ۰٫۴٪، استرلیا ته ٪ ۰٫۱ او افریقا ته (۰٫۰۲) سلنه صادرات لري.

د افغانستان صادرات د وارداتو په پرتله خورا ډېر کم دي او ټول صادرات د وارداتو ۵سلنې ته رسیږي.[4]

## پاکستان ته د افغانستان صادرات

افغانستان چې په وچه کې راګیر هېواد دی د صادراتو په برخه کې وخت په وخت له پراخو ستونزو سره مخ شوی دی. سیاسي او امنیتي هغه حالات دي چې ډېر ځله یې د دې هېواد په صادراتو مستقیمه منفي اغېزه کړې ده. د بېلګې په توګه د افغانستان زیاتره صادرات چې ګاونډي هېواد پاکستان سره دي، په مختلفو وختونو کې کله چې د یاد هېواد سره د افغانستان ډیپلوماټکي اړیکې خرابې شوي او یا کومه تروریستي پېښه په پاکستان کې ترسره شوې[5] نو په ټوله کې د دواړو هېوادونو په سوداګریزه راکړه ورکړه او په ځانګړې توګه د افغانستان په صادراتو یې منفي اغېزې لرلي دي. او افغان سوداګرو ته یې په میلیونونو ډالر زیان وراړولی دی، ځکه پاکستان د افغان سوداګرو پر وړاندې خپلې پولې

---

[2] https://oec.world/en/profile/country/afg
[3] http://www.worldstopexports.com/afghanistans-top-10-exports/
[4] https://www.files.ethz.ch/isn/193664/PB191-The-Future-of-Afghanistan-Pakistan-Trade-Relations.pdf
[5] https://tribune.com.pk/story/1329614/border-afghanistan-shut

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

تړلي او پر افغان حکومت يې پړه لګولې چې ګواکې تروريستي حملې په افغانستان کې پلان شوي دي.[6]

که څه هم د پاکستان او افغانستان ترمنځ د ۱۹۶۵ میلادي کال راهیسې د (Afghanistan Pakistan transit trade agreement) یا (APTTA) په نوم دوه اړخیزه ترون شتون لري کوم چې په ۲۰۱۰ کال کې بیاځلې تر کتنې لاندې راغی.[7] د کوم له مخې چې افغان سوداګر کولی شي خپل سوداګریز توکي د پاکستان له لارې هند ته او همدارنګه افغانستان ته راولېږدوي او په مقابل کې پاکستانیو لاریو ته د افغانستان ټولو برخو ته د سوداګریزو توکو د لېږدولو اجازه ورکړل شوې ده. خو که وکتل شي پاکستان تل هڅه کوي چې د افغانستان په وچه کې د راګیرېدو نه په ګټې اخیستنې سره دا ترون په یو اړخیزه توګه پلي کړي او همدا لامل دی چې د افغانستان صادراتو پر وړاندې پراخه ننګونې راولاړېږي.

افغانستان د پاکستان لپاره تر ټولو نږدې او اقتصادي مارکیټ په توګه قرار لري او افغانستان خپل ډېر واردات له همدې هېواد څخه ترسره کوي. او که له بلې خوا وکتل شي د افغانستان صادراتو لپاره بیا پاکستان تر ټولو نیږدې او اقتصادي مارکیټ په توګه ځای لري. ولې د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې باوریو له امله دغه اقتصادي فرصت ډېر ځله د خنډ سره مخ شوی او په پایله کې یې د دواړو هېوادونو سوداګرو ته په پراخه کچه مالي زیانونه اړولي دي.

کله چې په ۲۰۱۴م کال کې پاکستاني ځواکونو په وزیرستان کې چاپېز عملیات پیل کړل نو د افغانستان سره یې د غلام خان بندر وتاړه.[8] له دې پرته د تورخم او چمن سوداګریزې پولې هم د پاکستاني لوري لخوا د تروریستي حملو ترسره کېدو، سیاسي اړیکو خرابولي او ځینو نورو لاملونو له کبله وخت په وخت د افغانستان پر وړاندې تړل شوي دي.

د روان کال مارچ میاشتې راهیسې پاکستان خپلې ټولې پولې د افغانستان سره د کرونا وایروس خپرېدو وېرې له کبله په هر اړخیزه توګه وتړلې. که څه هم کووید ۱۹ په نړیواله

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

6 https://tribune.com.pk/story/1360336/pm-nawaz-orders-pak-afghan-border-reopened-immediately
7 https://www.files.ethz.ch/isn/193664/PB191-The-Future-of-Afghanistan-Pakistan-Trade-Relations.pdf
8 https://tribune.com.pk/story/2246187/1-pakistan-afghanistan-reopen-key-trade-route-june-22

سطحه یوه وبا وګڼل شوه، په لومړیو کې یې د پلازمینې کابل په ګډون په یو شمېر نورو ولایتونو کې د توکو بیې خورا لوړې کړې، ځکه له یوې مخې له پاکستان څخه افغانستان ته د وارداتو مخه ډب کړای شوه او له بلې خوا د افغانستان صادرات هم له ستر خنډ او ځنډ سره مخ کړای شول.

خو د پاکستاني چارواکو پر وینا د افغان چارواکو په غوښتنه یې یوازې افغانستان ته له پاکستان څخه د وارداتو په برخه کې په لومړیو کې په اوونۍ کې د درې ورځو لپاره د چمن او تورخم پولې پرانستلې. د جون په ۲۰ نېټه د پاکستان بهرنیو چارو ویاندې عایشه فاروقي څرګنده کړه چې هېواد به یې د افغانستان په غوښتنه او د انساني همدردۍ پر بنسټ د جون میاشتې په ۲۲ نېټه د تورخم، چمن او غلام خان بندر سوداګریزې لارې په اوونۍ کې شپږ ورځې د دواړو هېوادونو سوداګریزو توکو پرمخ او یوه ورځ به یادې لارې د دواړو هېوادونو مسافرو پر وړاندې پرانستې وي. خو که وکتل شي د لارو بیا ځلې پرانسته نه یوازې افغانستان بلکې د پاکستان ولس او حکومت ته هم ستره ګټه رسولی شي.

## د افغانستان صادراتو پر وړاندې ستونزې

افغانستان چې زیاتره تازه او وچې میوې، او سبزیجات صادروي، د افغان بڼوالو او سوداګرو لپاره د پراخو عوایدو په توګه پېژندل کېږي. افغان حکومت که څه هم د صادراتو په برخه کې د ستونزو حل کولو په اړه څرګندونې ترسره کوي خو بڼوال او سوداګر بیا د حل لارو پسې سرګردانه ګرځي.

ډېر کله داسې شوي چې د تازه میوو موسم پر وخت کې بڼوال آن دې ته زړه نه ښه کوي چې خپل د تازه میوو حاصلات د ټیټو بیو له کبله بازار ته وړاندې کړي، ځکه بازار ته د وړاندې کولو مصرف کچه یې د پلورل شویو میوو د عاید څخه هم ښکته راځي. د بېلګې په توګه د فراه ولایت کروندګر هر کال نیوکې کوي چې د تازه میوو په موسم کې د یوې کیلو هندوانې بیه یوې افغانۍ ته رسېږي، او دا کار کروندګر له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ کوي.

د پاکستاني لوري لخوا په افغان صادراتو د مالیې زیاتوالی، د ټولو او یا ډېرو لارېو چیک کول، چې د زیات وخت نیولو له کبله تازه میوې ورسره خرابېږي او له منځه ځي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS) Kabul

افغان توکي له پاکستان څخه بېرته افغانستان ته د پاکستان په نوم راوړل او د حکومت لخوا د صادراتو په برخه کې اغېزمن پلانونه نه درلودل ښايي نور هغه لاملونه اوسي چې د افغانستان صادرات يې له ستونزو سره مخ کړي دي.

## پایله

د کرونا وبا څخه را پیښ ځنډ او ځنډ و راخوا چې ټوله نړۍ يې په اقتصادي او سوداګريزه ګر کې ولړزوله، اړينه ده پاکستان دې ته وهڅول ترڅو د APTTA تړون په دوه اړخيزه توګه پلي کېدو ته ژمن پاتې شي، ترڅو د دواړو هېوادونو سوداګريزه راکړه ورکړه د وختي مسائلو او سياسي بې باوريو ښکار نه شي. که څه هم د ۲۰۱۴ کال را وروسته چې په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو شمېر تر ډېره ښکته شوی، کوم چې د پاکستان او افغانستان په سوداګريزه راکړه ورکړه هم منفي اغېزې لرلي دي. له افغانستان څخه د پاتې بهرنيو ځواکونو وتلو سره ښايي افغانستان د صادراتو په برخه کې د نويو ستونزو سره مخ شي، ځکه د بهرنيو ځواکونو وتلو وروسته سياسي لانجې، د بهرنيو اسعارو (ډالرو) کمېدل او نا امني ښايي هغه لاملونه وي چې د افغانستان اقتصاد په خورا لويه کچه وګواښي. نو په همدې بنسټ افغان حکومت بايد د صادراتو او وارداتو په برخه کې په شته پاليسيو بياځلې ژوره کتنه ترسره کړي. که څه هم د دويم ځل ولسمشر کېدو وروسته ولسمشر محمد اشرف غني بهرنيو چارو وزارت ته دنده سپارلې ترڅو په بهرنيو هېوادونو کې د افغانستان سفارتونه دې ته وهڅوي ترڅو د هېواد سوداګريزو توکو ته په يادو هېوادونو کې د بازار موندنې په برخه کې جدي ګامونه واخلي. دا کار د يو تشويقي اقدام په حيث د ستايلو وړ کار دی، مګر اړينه ده ترڅو د هېواد او سيمې حالاتو ته په کتو د هېواد صادراتو د کچې لوړولو په برخه کې اغېزمند ګامونه پورته کړای شي.

له دې پرته افغان دولت بايد د ويزو، ماليې او د پاکستان له لوري د افغان سوداګرو پر وړاندې د پولو تړلو ستونزې ته هر اړخيزې حل لارې ولټوي. او کروندګرو سره د سړو خونو او همدارنګه د هغو توکو په کرلو کې مرسته وکوي چې عايد يې ډېر او د هېواد وارداتو کچه ورسره راښکته کېږي. ترڅو د هېواد ډېری اړتياوې د وارداتي توکو پر ځای په کور دننه پوره شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

# غصب زمین های دولتی ادامه دارد



به نقل از پژواک، شواهد نشان میدهد که شهردار کابل به منظور غصب ملکیت ادارات دولتی، ساحه سبز و زمین های استملاک شده دولتی، برای برخی تاجران و اعضای مجلس نماینده گان احکام صادر کرده است. گفته میشود پس از آن که آقای سطان زوی از سوی ریس جمهور افغانستان به این پست گماشته شد تا اکنون حد اقل دو حکم غیر قانونی صادر کرده است. اسنادی که به دست پژواک است نشان میدهد که شهردار کابل در مربوطات ناحیه دوازدهم شهر برای یک شرکت خصوصی امر فوق العاده داده است تا بالای زمین مربوط وزارت معارف، ساختمان اعمار کند. و حکم دومی وی در مربوطات ناحیه هشتم نیز برای شماری از وکلای ولسی جرگه، امر فوق العاده اعمار چهار دیواری بالای ۱۲ جریب ساحه سبز و استملاک شده را صادر کرده است، درحالیکه رئیس ناحیه دوازدهم شهرکابل، گفته است که این زمین به وزارت معارف تعلق می‌گیرد.

## چالشی بزرگ

غصب زمین یکی از چالش‌های بزرگ افغانستان به خصوص طی دو دهه ی اخیر است. تنها در طول ۱۸ سال گذشته در حدود ۵۰ هزار جریب زمین در کابل پایتخت غصب شده است. حکومت ها بارها در این پیوند خواسته اند تا اقدامی انجام دهند و زمین‌های غصبی را دوباره

Center for Strategic and Regional Studies

پس بگیرند، اما یا زور دولت به زورمندان (که اکثریت آنان نیز افراد مسلح با خود دارند) نرسیده است، و یا بنا بر مصلحت هایی خاموش مانده است.

به تاریخ ۲۷ ماه جدی سال ۱۳۹۱ ه ش روزنامه هشت صبح گزارش تحقیقی ای را به نشر سپرد که بر اساس آن، در حدود ۲ میلیون جریب زمین دولتی در افغانستان غصب شده بود. همزمان با آن، مشاوریت ارشد ساختمانی و فنی ریاست جمهوری وقت نیز گزارشی به حامد کرزی، رئیس جمهوری سابق افغانستان، ارائه داد که بر مبنای آن در حدود ۴,۵ میلیون جریب زمین دولتی، در مناطق زراعتی، دهاتی و شهری، غصب شده بود. به اساس گزارش فوق، در میان کسانی که زمین‌ها را غصب کرده‌اند، از نام برخی از معاونین رئیس جمهوری گرفته تا وزرا، معاونین وزارت خانه ها، رؤسای ادارات، اعضای مجلس افغانستان، فرمانده های جهادی، متنفذان محلی و حتی مردم عام نیز به چشم می خورد. گزارش به اندازه‌ای همه جانبه و گسترده بود که مسئولان آن توسط زورمندان مورد تهدید قرار گرفته اند و کارمندان آن هفته ها تحت حمایت نیروهای امنیتی تردد می کردند[9].

غاصبان زمین تنها به غصب زمین های دولتی بسنده نکرده اند، بلکه حتی زمین ها و خانه های مردم را نیز گرفته اند. تا پیش از هجوم مجاهدین به شهرها و سقوط حکومت دکتر نجیب الله، هزاران شهروند هندوتبار در افغانستان، به خصوص در کابل، از سالهای سال زندگی می کردند. آنها صاحب زمین، خانه و املاک و اموال فراوان بودند. با روی کار آمدن مجاهدین و در پی آن، جنگ های پی در پی و سپس استیلای طالبان بر افغانستان، هندوتبارها مجبور شدند تا موقتا به خارج از افغانستان پناهنده شوند. اما در برگشت، دیگر اثری از خانه و املاک شان باقی نماند. در سال های اخیر بیش از ۹۰ در صد ملکیت های اهل هنود غصب شده است ولی این اقلیت توان استرداد این زمین ها را ندارد.

یکی از نهاد ها به اسم خانه آزادی در ماه فبروی سال ۲۰۱۴ م تحقیقی را تحت عنوان «فصل سیاه غصب زمین» به نشر رساند، که در آن محققان با ۷۰ تن از منابع معتبر دولتی مصاحبه

[9] https://www.independentpersian.com/node/37951/%D8%BA%D8%B5%D8%A8-%D8%B2%D9%85%DB%8C%D9%86%D8%8C-%D8%AF%D8%B1%D8%AF-%D8%A8%DB%8C%E2%80%8C%D8%AF%D8%B1%D9%85%D8%A7%D9%86-

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

کرده بودند. این گزارش بیان می نماید که بیشترین زمین در چهارده سال گذشته در زمان حاکمیت حامد کرزی رییس جمهور پیشین افغانستان غصب شده است. تحلیل آمار گزارش حاکی از آن است که بیشترین زمین در کابل پایتخت غصب شده و به ترتیب، ولایات هرات، بلخ، قندهار، ننگرهار، کندز، کاپیسا، بغلان، تخار، نیمروز، خوست، لوگر و غزنی ولایاتی‌اند که بیشتر از تمام ولایت های افغانستان زمین‌های غصب شده را به خود اختصاص داده‌اند. براساس این گزارش ولایات نورستان، پکتیکا، پنجشیر، دایکندی و غور به دلیل نبود زمین، کمترین زمین غصب شده را دارند. مسوولان خانه آزادی گفتند با وجودی که حکومت معلومات کافی در مورد غاصبان زمین دارد، اما اقدامی برای پیگرد عاملان غصب زمین در آن زمان هم صورت نگرفت[10].

## غاصبین زمین کی ها اند؟

در ماه اسد سال ۱۳۹۸ه ش وزارت شهرسازی و اراضی افغانستان در گزارش اعلان نمود که در سراسر این کشور حدود یک میلیون و ۶۰۰ هزار جریب زمین دولتی غصب شده است. بر اساس معلومات این وزارت در غصب زمین‌های دولتی بیش از ۱۸هزار نفر دخیل اند که از این میان فهرست ۱۵هزار تن به نهادهای عدلی و قضایی سپرده شده است. بر اساس یافته های این وزارت، بیشتر زورمندان محلی در غصب زمین های دولتی دخیل اند.سخنگوی وزارت شهر سازی و اراضی به صدای امریکا گفت که در چهار سال گذشته به کمک نیروهای امنیتی حدود ۵۰۰ هزار جریب زمین دولتی از چنگ غاصبان بیرون کشیده شده است.

بر اساس آمار که وزارت اقتصاد ارایه نموده است، غصب ۱۳۸۹۹۶ جریب زمین در شش ولایت مهم افغانستان بطور رسمی ثبت شده است. آمار وزارت اقتصاد نشان میدهد که در ولایت هرات ۱۲۴۱۱ جریب زمین، در ننگرهار ۲۰۵۰۰ جریب زمین توسط ۱۳ تن، در کندز ۱۷۱۴ جریب زمین توسط ۱۵ تن، در کابل ۱۱۴۲۶ جریب زمین توسط ۱۱ تن و در

[10] https://www.google.com/amp/s/amp.dw.com/fa-af/%25DA%2586%25D9%2587%25D8%25A7%25D8%25B1-%25D9%2588-%25D9%2586%25DB%258C%25D9%2585-

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

ولایت پروان ۵۳۴۵ جریب زمین توسط دو نفر غصب شده است. ولی این موضوع جنجال برانگیز می باشد دولت نیز از این رجال نام نمی برد، غصب زمین سال ها در افغانستان وجود داشته با آن که دولت اقدامات را روی دست گرفت تا حال نتیجه بخش نبوده است.

حکومت وحدت ملی برای جلوگیری از غصب زمین طی سال گذشته شروع به ثبت زمین های دولتی نمود و به تاریخ ۱۲ جوزای سال ۱۳۹۹ ه ش از ثبت بیش از شش میلیون جریب زمین دولتی در بانک زمین خبر داد. سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی بیان نمود که اهداف کلی این برنامه، تعیین وتثبیت زمین های دولتی، جلوگیری از غصب زمین های دولتی، توزیع زمین برای افراد مستحق و تطبیق پروژه های عالم المنفعه است[11].

اعضای کمیسون مبارزه با فساد اداری تایید می نمایند که زمین ها غصب شده از ارقامی که ارائه شده بسیار بالاتر است، چون کشور دشتها و زمین های که دارد که حین وسعت دادن شهر های بزرگ مانند ننگرهار، کابل، مزارشریف، هرات، کندهار و دیگر جا ها هم سوء استفاده صورت گرفته است.

## کوشش در جهت استرداد زمین های مغصوبه

از جمله زمین های غصب شده تا حال فقط ۴۰۰ هزار جریب آن از غاصبین پس گرفته شده است، و در کنار آن مبارزه حکومت در برابر غاصبین زمین در افغانستان در برخی موارد قربانی مصلحت های سیاسی شده است[12].

برای دوباره گرفتن زمین های غصب شده در زمان ریس جمهور اسبق کشور حامد کرزی و همچنان در زمان حکومت اشراف غنی اقداماتی صورت گرفت ولی این اقدامات آنچنان نبود که مشکل را ریشه کن نماید. غصب زمین برای دولت همچون گره کور تبدیل شده است، غاصبان تقریبا برای تمامی زمین های که غصب کرده اند، قباله های جعلی ساخته اند. اکثر این زمین ها تبدیل به شهرک های رهایشی شده است و به مردم عادی فروخته شده است. حالا برای دولت بسیار دشوار است که مردم عادی را که این زمین‌ها را خریده اند، از خانه های

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

[11] http://afghannews.af/%D8%AB%D8%A8%D8%AA-%D8%A8%DB%8C%D8%B4-

[12] https://www.goolgle.com/amp/s/da.azadiradio.com

شان بیرون کند. اکثر غاصبان نیز در بیرون از افغانستان زندگی می‌کنند.از بسیار کسانیکه زمین های شان غصب شده است با گذشت زمان نام های شان از روی صحنه پاک شده است و دیگر دنبال املاک خود را رها کرده اند، با توجه به این وضعیت، به نظر نمی رسد که هشدار های رئیس جمهوری غنی ۲۶ دلو سال ۱۳۹۶ به غاصبان، در برنامۀ زیر نام «انکشاف نظام زمین داری در افغانستان[13]» جلو غصب زمین های دولتی را گرفته باشد. وی آن وقت هشدار داده بود که برای استرداد زمین های غصب شده از سوی زور مندان محکمه خاص تشکیل خواهد داد و اگر دست بر ندارند اسامی شان را افشا خواهد کرد. ولی در جریان سال های حاکمیت حکومت وحدت ملی، اقدامات عملی مناسب برای عملی شدن این هشدار ها صورت نگرفته است. از یک طرف قوانین مشخصی در مورد پیگرد قانونی غاصبان زمین در افغانستان وجود ندارد و از سوی دیگر نهاد های عدلی و قضایی از پیگرد غاصبان زمین عاجز بوده اند به همین دلایل حکومت طی سال های گزشته نتوانسته زمین های غصب شده را واپس گیرد.

## راه حل

جلوگیری از غصب زمین قبل از همه به یک تصمیم قاطع نیاز دارد و بعد به برنامه های عملی دوام دار. طرح قانون جلوگیری از غصب و تصرف غیرقانونی زمین‌های دولتی و غیردولتی (۱میزان ۱۳۹۲) از سوی مجلس نمایندگان تصویب شد، ولی با وجود آن غصب زمین هنوز هم برای کشور درد بی درمان بوده، نه تنها برای استرداد زمین های غصب شده اقدامی جدی صورت نگرفته بل این عمل شنیع هنوز هم جریان دارد. دولت میتواند با تطبیق برنامه عملی و انکشافی بانک زمین دولتی به منظور سروی و ثبت زمین های دولتی و ملکیت های عامه ایجاد گردیده است، جلوگیری از غصب بیشتر زمین های دولتی، زمینه سازی برای طرح و تطبیق پلان گذاری های اقتصادی و انکشافی دولت، تحقق پروژه های زیربنایی و عام المنفعه، اجاره دهی زمین به سکتور خصوصی و توزیع زمین به عودت کننده گان، بیجا شده گان داخلی، کوچی ها و ورثه شهداء زمین توزیع نماید. اما مهمتر از همه تقویت

[13] http://www.google.com/amp/s/da.azadiradio.com/amp/29041543.html

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

باور به حرمت غصب زمین و عدم دست درازی به ملکیت های عامه است که متأسفانه درین راستا هیچ کاری صورت نگرفته است.

**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز يو غير انتفاعي، غير حکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې تأسيس شوی دی. مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو ارزولو او د هغو د پراختيا لپاره فعاليت کوي. د مرکز يوه موخه دا هم ده چې د نويو څېړنو او پاليسيو تر مينځ داسې ارتباط قايم شي چې په پايله کې د هېواد په کچه ټولې پاليسۍ په مطالعې ولاړ او اکاډيميکو اصولو برابرې شي.**

**www.csrskabul.com**

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)